دبزگرلور



Ketabton.com

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غوايي لاندی

لاس و پښسي چاودي مخ سپېره شونډي وچي يو کوچنى پېټى غنم يې پر شا را اړولي وو او په ستمي د کور پر لوري را روان دی، بشپړي نهه مياشتي يې خواري کښلې ده او منتونه يې وړي دي، تر څو چي په اخري دوبي (۹۰) منه غنم له بزګری نه ورغلل په دې کي يې (۹) منه غنم ملاصاحب ته زکات ورکړل، (۳۰) منه يې پش ته ورکړل او څلور منه هم (رقبه) ترېنه يووړل، (۲۰) منه يې د هغو دوو زرو افغانيو په سود کي ورکړل کومي چي د ده د پلار د مرګ د خيرات او اسقاط لپاره د يوه سودخور نه په شپېته منه ګټه راوړي وې، په کور کي د ده ماينه او مور او څلور ماشومان د ده لاره څاري او ماشومان يې له کوره راوتلي او د هغې لاري خواته په ډېره اسره ګوري، پر کومه لاره چي د دوی پلار اوس کورته راځي او د رشې غنم راوړي، د ده مور او ماينې د سږ کال د محصولاتو په شاوخوا کي خورا ښې خوږې کيسې کولې او هيله يې وه چي ګوندي سږ به يو څو ورځي په نس ماړه سي، په دې وخت کي ماشومان يو په بل پسې د کور لوري ته راځغلي او ناري وهي چي بابا راغی او غنم يې په شا دي.

بزګر هم پېټى په شا په کور راننووت او پېټى يې د خوني له مخه کښېښود، مور او ماينې په الوتو بنو ترېنه د رشې احوال پوښته چي په دې وخت کي يو سړی ترازو او کاني په لاس په انګر راکښېووت او په کلک ږغ يې ورته وويل چي: "تا خو ويل پر راشه به

(c) ketabton.com: The Digital Library

غنم د پور په عوض کي درکړم او تا ټوله غنم خپل کورته راوړل، خان صاحب په قهر وو، ويل يې چي دا څلور پنځه مياشتي کېږي چي تا نه (کورغم) ورکړی او نه دي (سړي غم) ادا کړی دی، روپۍ خو نه لرې ژر شه غنم راوتله، موريې چيغي کړې چي دا څو دانې چي ته يوسې نو موږ به څه خورو، ده ورته وويل خاوري!"

سم د لاسه يې اندی راواړاوه او ټوله غنم يې ځيني وتلل او په پای کي يې لا نور هم پسې په قهر خوار بزګر ته وويل چي: "دونه منه خو لا نور هم درباندي پاته سول هغه به څرنګه سي."

خوار بزګر په داسي حال کي چي له څواشينی نه يې پر ستوني درد وو، تش جيوال و ځانده او يوې خوا ته يې کښېښود.

ماشومانو وژړل او په ژړا ژړا کي يې وويل چي: "موږ خو وږي وو، تاسي خو به يوه لپه نيني راکولې، د ماشومانو انا د باندي ولاړه او يو څه شفتل يې په پلو کي راوړه او له مالګي سره يې له ماشومانو سره وخوړه، خو ماشومان په دې تر ډېري مودې قانع نه سول او د ډوډۍ لپاره يې په ژړا پيل وکړ.

خوار بزګر ته اوس د کلي ګاونډيانو پور هم نه ورکاوه، ځکه له يوې خوا د ده ګاونډيانو هم دغه راز د ناداری تکليف درلوده، له بلې خوا ده چي پر راشه باندي يو دوې کاسې اوړه ترينه پور کړي وو هغه يې بېرته نه وو ورکړي، او خپل اعتبار يې بايللی و، نو وروسته له هغه چي ډېر فکر يې وکړ، له ځانه سره يې فيصله وکړه چي د يوي غويي چي د ده وروستنی او يواځنی دارايي وه د هغه په مرسته يې د خلکو بزګري کوله د عيال دقوت او لايموت لپاره حلال کړي او په خپله سترګي نهامي کړي په دې خصوص کي يې د مور او ماينې رضايت هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

واخيست او د يوې غويي يې حلال کړ چې د عيال د ژمي او مني قتغ سي او په خپله لڅي پښې پړانګي پړانګي کالي بلي منطقې له د خوارۍ او مزدورۍ لپاره ولاړ.

ده په يوه توده منطقه کې شپږ مياشتې د خاورو او خټو مزدوري وکړه، ده ته يې د ورځې شپږ افغانۍ ورکولې، چې درې افغانۍ يې په سپوره ډوډۍ خوړلې او درې افغانۍ يې د کور لپاره سپمولې، په پای کې د ده ټوله ګټه (۴۲۸) افغانۍ سوه، چې په (۳۰۰) افغانۍ يې څانته پنې او کوچنيانو ته يو يو کميس واخيست، دی شپږ مياشتې په کور خبر نه وو، او په خورا بيړه او بسه زړه د کور لوري ته راروان سو چې د کور په وره راننووت او لوز او ماينې يې چيغې کړې.

وروسته ورته څرګنده سوه چې مور او درې ماشومان يې د سکاروي په اثر په منې لا مړه سوي دي، يو ګړی وروسته د کلي ملک وروغوښت او ورته يې وويل چې: "ستا د مور او ماشومانو کفنونه مې ورکړي دي چې قيمت يې (۴۳۳) افغانۍ کېږي او هم مې ستا پر ځای په دې شپږو مياشتو کې (۱۲۳) افغانۍ د (کورغم) او (سړي غم) پرې کړې دي، تا خو ځان نهام او خپلې مېلې دي کولې، ټول غمونه دي پر مور را ايله کړي وو، اوس دستي زما پور چې (۷۴۲) افغانۍ کېږي راکړه" څکه چې ده دا ټول رقم پر يو ځای نه شو تاديه کولای نو محکمې ته يې کښن کړ او بندي شو چې بيا د دې خوار او د ده د کالۀ احوال چا وا نه خيست[۱۰]

«۱۳۳۰» ش کال ۱۹۵۱ ع کال

---

[۱۰] اوسني ليکوال لومړی ټوک

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library